مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۳/۰۴/۲۴

# د افغانستان جمهوریت د سقوط عوامل
## د پاکستان رول
(شپاړسمه او وروستۍ برخه)

**د پاکستان جوړښت او پاشل (۴)**

وړاندې له هغې چې پاکستان رامنځ ته شي، امیر عبدالرحمن خان لا پخوا ویلي وو «زه فکر کوم په نږدې راتلونکي کې به د هند وګړي او مسلمانان ویش شي او د خپلې آزادۍ دفاع به وکړي، په قوي احتمال سره دوه هندوستانونه به رامنځ ته شي (هندو هندوستان او مسلمان هندوستان) مسلمان هند به زموږ له هېواد سره پوله ولري او زموږ د خلکو او زما زامنو ته به د سر درد جوړ شي.»
رابندرنات ټاګور د انګرېزانو د وتلو اړوند هم وړاندوینه کړې وه چې «یوه ورځ به د برخلیک څرخ انګلستان اړ کړي چې د هند له امپراتورۍ لاس په سر شي خو هغه مهال به هند په څه ډول توره ورځ او سختو مصیبتونو کې پرېږدي؟ چې کله د انګرېزانو د پېړیو واکمنې په پای کې وچه شي نو څه ډول بوینې او بې حاصله ختې او چټکړې به پر ځای پرېږدي.» ([1])
انګرېزانو او ګوډاګیانو یې په ۱۹۴۷ز، کال کې د پاکستان په نوم یو له شرارتونو ډک هېواد رامنځ ته کړ، پاکستان په لومړیو کې له هند سره څو ځله ناکامې جګړې وکړې چې په دې جګړو کې یې بنګلادېش له لاسه ورکړ او په ټولو جګړو کې برې د هند په برخه ؤ، هم مهاله یې له افغانستان سره عملاً دښمني پیل کړه. له افغانستان سره د پاکستان دښمنۍ دوه اړخونه لري، یو اړخ یې له هند سره د افغانستان دوستانه اړیکې او بل مهم او بنسټیز اړخ یې د ډیورنډ ناولې کرښې شتون دی چې پښتونخوا او بلوچستان یې له افغانستان څخه بېل کړي دي او پاکستان (پنجاب) د لوی افغانستان پر خاوره خېټه اچولې ده.
د ډیورنډ کرښه د لر او بر پښتنو، بلوڅو او افغان حکومتونو له خوا هېڅ کله نه ده منل شوې، تاریخ شاهد دی چې له ۱۸۹۳ز، کال چې د ډیورند کرښې ترون لاس لیک شو، تر اوسه پورې پښتنو او بلوڅو د انګرېزانو او بیا د انګرېز بچې، پاکستان حاکمیت نه دی منلی او د خپلې آزادۍ په لاره کې یې سختې سیاسي او خونړۍ جګړې تر سره کړې دي چې دا د آزادۍ جګړې او مبارزې په بېلابېلو ډولونو دوام لري.
هغه مهال چې د پښتنو سیمې د انګرېزانو په واک کې وې، پښتانه د امیر حبیب الله خان او امان الله خان په مرسته له انګرېزانو سره په جګړه نښتي وو خو کله چې انګرېزانو سیمه پرېښوده او پاکستان جوړ شو، په افغانستان کې نادري کورنۍ واکمنه وه، نادري کورنۍ تر پایه د لوی افغانستان د خاورې غوښتنه ونه کړه، یوازې یې د پښتنو او بلوڅو د آزادۍ غوښتنه کوله، دا چې نادري کورنۍ ولې د خپلې خاورې غوښتنه نه کوله بېلابېل عوامل لري چې په یو مناسب ځای کې به پرې وغږېږو.
وروسته د نادري کورنۍ له پرځولو چې بهرنیانو پر افغانستان تیری وکړل نو د پاکستان لپاره د افغانستان د وړانولو بنه موکه په لاس ورغله او څلور لسیزې یې افغانستان د کفر او اسلام په نوم وران کړ، سره له دې چې د سردار محمد داؤد خان د واکمنۍ پر مهال پاکستان د خپلو ګوډاګیانو: برهان الدین رباني، ګلبدین حکمتیار، احمد شاه مسعود او نورو پر مټ یو شمېر ناکام تخریبي بریدونه ترسره کړل خو له تېرو ۴۲ کلونو راپه دېخوا پاکستان په افغانستان کې خپلې نیابتي جګړې په ښه توګه ترسره کړې، د شورویانو او امریکایانو پلوي حکومتونه یې د افغان تنظیمونو او طالبانو پر مټ مات کړل، پاکستان ته په افغانستان کې خپلې نیابتي جګړې په ډېره لوړه بیه تمامې شوې او د ګټې پر ځای یې سخت زیان وکړ، پاکستان چې افغانستان ته کوهی کیندلی ؤ په خپله په کې وغورځېده:

---

[1] - (جواهر لال نهرو: کشف هند. فارسي ژباړه:محمود تفضلي. ۷۷۹مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

## د ګيدړو ښکار يې که په زمري پېښ شو
## په بري پسې روان په لري پېښ شو

(حميد بابا)

هغه مهال چې شورويانو په افغانستان يرغل وکړ، ډېر افغانان پاکستان او ايران ته کډه شول، پاکستان افغان کډوالو ته ځای ورکړ او له هغوی يې اووه بېلابېل تنظيمونه جوړ کړل، له دغو تنظيمونو سره عربو او غربي هېوادونو هر اړخيزې پوځي او مالي مرستې وکړې، افغان جهادي تنظيمونو ته غربيانو هغه زغره والې شوبلې (روسي ټانکونه) او درانده توپونه ورکړل چې د عراق په لومړۍ جګړه کې يې نيولي وو او له ځمکي نه هوا ته توغندي يې هم ورکړل چې د (ستنګر) امريکايي توغندي ډېر اغېزناک وو، له دغو وسلو او پيسو چې د پاکستان په لاس افغان کډوالو او تنظيمونو ته وېشل کيدلې، پاکستان خورا لويه ګټه پورته کړه داسې چې پاکستاني حکومت نوموړې مرستې تر ډېره له ځان سره ساتلې او پاتې نورې يې د خپلې خوښې سره سم، په ناعادلانه توګه پر تنظيمونو او کډوالو وېشلې چې سم نيمايي د ګلبدين حکمتيار تنظيم (حزب اسلامي) چې (آی، اېس، آی) ته تر ټولو نږدې او ژمن تنظيم ؤ؛ ورکولې.
په پای کې افغان تنظيمونه، (د بېلابېل لاملونو له امله) پر افغان حکومت بريالي شول او په کابل کې يې د يو منظم حکومت پر ځای **(د خرو منډيي)** جوړه کړه چې يو او بل يې په لغتو سره وهل او رښتينی جهاد يې پيل کړ، د ولي خان په خبره:**«اصل جهاد خو به هله پيل شي چې ملا په ملا پسې ټوپک راواخلي.»** له بده مرغه د جهادي تنظيمونو په دغو جګړو کې له ۶۰ تر ۷۰ زرو پورې د کابل بې ګناه ښاريان ووژل شول.
پاکستان فکر کاوه چې په افغانستان کې د مجاهدينو حکومت به د پاکستان دوست او د هندوستان دښمن وي خو داسې ونه شول، د رباني حکومت له دې امله چې پاکستان له ګلبدين حکمتيار سره مرستې کوي، د پاکستان په دښمن بدل شو او د هندوستان دوست پاتې شو خو وروسته په کابل کې د رباني او په چهار آسياب ولسوالۍ کې د حکمتيار واکمني د طالبانو تحريک له خوا جارو کړای شوې.
کله چې امريکايانو په افغانستان تېری وکړ نو پاکستان له طالبانو سره مرستې پيل کړې، پاکستان له طالبانو سره د خدای په خاطر مرستې نه کولې بلکې خپلې شيطاني موخې يې درلودلې، داسې چې په افغانستان کې مېشت امريکايي پوځونه تر فشار لاندې راولي او له دې لارې امريکا ته وښيي چې ترهګرې ډلې فعالې دي او له ترهګرۍ سره د مبارزې په نوم له امريکايانو امتيازات ترلاسه کړي چې همداسې يې وکړل او خپل هدف ته ورسيدل، پاکستان له يوې خوا له افغان طالبانو سره مرستې کولې، له بلې خوا يې د القاعدې ډلې پر وړاندې (چې ډېری يې د پښتنو په سيمو کې ځای پر ځای وو) د امريکايانو په پلوۍ، د ترهګرۍ په نوم په جګړو کې د پښتنو په سيمو کې اوږه په اوږه جګړې وکړې چې په دې جګړو کې کوزو پښتنو ته ډېره مرګ ژوبله واوښته، په زرګونو پښتانه ووژل شول او په زرګونه کورنۍ له ډيورنډ کرښې دې خوا د خوست او پکتيکا ولايتونو ته راغلې او په زرګونو نورې کورنۍ د پښتونخوا بنو او نورو سيمو ته کډه شوې، کورونه يې وران او په زرګونو پښتانه يې د ترهګرو په نوم ونيول او ترې تم يې ورک کړل، د پاکستان د پوځ دا او دې ته ورته نورو جنايتونو پښتانه په لوی لاس خپلې دښمنۍ ته ور وبلل او د **(تحريک طالبان پاکستان – ټي، ټي، پي)** او **(پشتون تحفظ مومېنټ - پي، ټي، اېم)** په نومونو غورځنګونه يې جوړ کړل، سره له دې چې د (پي، ټي، اېم) غورځنګ يو سوله غوښتونکی خوځښت دی خو اغېز يې د خپلو لاريونونو له امله خورا ډېر لوی دی چې ټول پښتانه يې د غفلت له خوبه ويښ کړل او دوست دښمن يې وروپېژندل خو د (ټي، ټي، پي) تحريک يو پياوړی جنګيالی غورځنګ دی چې د څو کلونو په اوږدو کې يې په پاکستانيو ځواکونو تباه کوونکي بريدونه کړي او سخت زيانونه يې وراړولي دي چې دا بريدونه تر اوسه روان دي. يوه بېلګه يې د ۱۴۰۱ل. ل، کال د دلوې په ۱۷مه نېټه د پېښور په يوه جومات يو خونړی بريد ترسره شو چې په سلګونو پاکستاني پوليس په کې ژوبل او ووژل شول، وروستۍ شمېرې ښيي چې ۱۰۰ تنه وژل شوي او ۲۲۱تنه ژوبل دي چې نوي سلنه يې پوليس دي. پاکستان حکومت د بريد پړه د افغانستان په مرسته پر تحريک طالبان (ټي، ټي، پي) باندې واچوله خو د طالبانو تحريک د چاودنې مسؤليت ونه مانه:«د (ټي، ټي، پي) وياند په يوه ويناپانه کې وويل چې پر جوماتونو، مدرسو، عيدګاوو او نورو سپېځلو ځايونو بريدونه نه کوي. دا پېښه له پاکستاني طالبانو سره هېڅ تړاؤ نه لري او زموږ د لايحو او عمومي کړنلارې له مخې جوماتونو، مدرسو، د جنازې ځايونو او نورو مقدسو (سپېځلو) ځايونو کې د مواخذې وړ کارونه جرم دی.»
د پېښور د پوليسو يوه مسؤل رياض مسيد په وينا «په دغه ځای کې سخت امنيتي تدابير نيول شوي وو او امنيتي ادارې په دې لګيا دي چې مالومه کړي د سخت امنيتي تدابيرو سربېره بريد کوونکی څنګه دغه مهم ځای ته ځان رسولی.»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د پولیسو مشر پلټونکی وایي لومړنی موندنې ښيي چې په دومره لویه کچه چاودېدونکي توکي د برید ګر او اسانچاري د یوې ورځې کار نه دی بلکې په څو ځلونو کې لېږدول شوي چې دا کار هلته د موجودو پولیسو مسئولیت نور هم درنوي.
د پاکستان د ملي جمهوري غورځنګ مشر او د پښتنو یوه استازي محسن داوړ ویلي:«په پښتونخوا کې له ډېرې مودې جګړه روانه ده او پښتانه په قصدي ډول وژل کېږي.»
هغه زیاته کړه: د پاکستان مرکزي حکومت اوس هم د افغانستان پر وړاندې له خپلې ناوړه او ناکامې پالیسي انکار کوي. د هغه په وینا:«د طالبانو ملاتړ کوونکي باید د ورته پېښو حساب او ځواب ورکړي.» (bbc.com/pashto/pakhtunkhwa)
سربېره پر دې چې (تي، تي، پي) د دغه برید مسؤلیت ونه مانه خو د دوی یو قوماندان په لومړیو کې وویل چې برید دوی کړی دی او د خپلو ملګرو غچ یې اخیستی دی، هغه چې درې تنه د طالبانو قوماندانان هر یو عبدالولي مشهور په خالد خراساني، مفتي حسن او حافظ دولت د پکتیکا په برمل ولسوالی کې د ۱۴۰۱ل. ل، کال د زمري په ۱۶مه نېټه د پاکستان د ګوډاګیانو له خوا (د امریکا د درې میلیونو ډالرو په بدل کې چې د خراساني پر سر یې ایښې وو) د سړک غاړې په یوه چاودنه کې ووژل شول.
له بلې خوا چې کله د طالبانو واکمني په ۲۰۲۱ز، کې په افغانستان کې رامنځ ته شوه، ټول په دې فکر کې وو چې طالبان د پاکستان دوستان دي نو وروسته له دې به په هېواد کې د پاکستان لاس وهنې پای ته ورسیږي، له بده مرغه چې پاکستان له طالبانو سره هم دښمني پیل کړه، د طالبانو پر خلاف یې له امریکایانو سره لاس یو کړ او په پاکستان کې د (تي، تي، پي) بریدونو پړه یې پر افغان امارت واچوله.
(تي، تي، پي) چې نن سبا په پاکستان کې خپلو بریدونو ته پراختیا ورکړې ده، پاکستان تور پورې کوي چې (تي، تي، پي) له افغانستان څخه د امارت په مرسته خپل بریدونه تنظیموي، د پاکستان د کورنیو چارو وزیر وویل چې موږ به په افغانستان کې دننه عملیات وکړو خو افغان دفاع وزیر یې په ځواب کې وویل چې افغانستان بې څښتنه نه دی. د طالبانو د دفاع وزارت په خبرپاڼه کې راغلي:«افغانستان بې صاحبه نه دی، دفاع وزارت د تل په څېر د افغانستان له ځمکنۍ بشپړتیا او خپلواکۍ څخه دفاع ته چمتو دی او د خپل هیواد په دفاع کې تر هر څا ښه تجربه لري.» (2)
پاکستانیانو د پښتنو په سیمو کې پر عملیاتو بسنه ونه کړه، له خپلې شړې یې پښې اوږدې کړې چې د ۲۰۲۲ز، کال د اپرېل په ۱۶مه نېټه (چې د لوی افغانستان ملي اتل حاجي میرزاعلي خان (اپیی فقیر) له ۶۲تلین سره سمون لري) په خوست کې د وزیرستان د کډوالو پر پنډغالو هوایي بمبار وکړ، په بمبار کې ۳۰ تنه ښځې او ماشومان ووژل شول او تر ۲۰ تنو ژوبل شول.
د پاکستان د جوړېدو راپدېخوا د هغه هېواد د هوایي ځواکونو دا دویم تېری دی چې په افغانستان ترسره کېږي، لومړی ځل د ۱۹۴۹ز، کال د جون په ۱۲مه نېټه پاکستانیو الوتکو د خوست د مغلګي په سیمه بمبار کړی ؤ.
په کنړ ولایت د پاکستان توپچي او راکټي بریدونه له تېرو شلو کلونو، د جمهوریت پر مهال په پرله پسې توګه روان وو خو د امارت په راتلو سره هم د خوست له بمبار سره هم مهاله پر کنړ ولایت پاکستاني پوځ توپچي او راکټي بریدونه ترسره کړل، په دې پلمه چې ګواکې هلته د تي، تي، پي ځوکونه اوسیږي، په دغو بریدونو کې ملکي خلکو ته مرګ ژوبله واوښته.
د امارت دفاع وزیر د پاکستان د هوایي او ځمکنیو بریدونو له امله پاکستانیو چارواکو ته کلکه ګوتڅنډنه وکړه چې که بیا داسې عمل تکرار شي تحمل به نه شي.
په سپین بولدک کې څو ځله د پاکستانیو ځواکونو او طالبانو تر منځ نښتې وشوې چې مرګ ژوبله یې درلوده او د همدغه پاکستان په مرسته د امریکا یوې بې پیلوټه الوتکې چې د پاکستان له خاورې، غالباً د جېکب آباد له هوایي ډګره پورته شوې وه، د ۱۴۰۱ل. ل، کال د زمري په ۹مه نېټه د کابل د شېر پور په سیمه کې د القاعدې مشر ایمن الظواهري وواژه.
پاکستاني استخبارات چې له سل ډوله شرارتونو کار اخلي، په دې موخه چې افغان امارت تر فشار لاندې راولي او مشکلات رامنځ ته کړي داسې ویل کېږي چې په افغانستان کې د داعش بریدونه د پاکستان د استخباراتو پر ملاتړ تنظیمېږي.
پاکستان نړیوالې ټولنې ته دا هم ویلي دي چې په افغانستان کې د القاعدې سازمان، داعش، تي، تي پي، ختیځ ترکستان او د ازبکستان ترهګرې ډلې ځای پر ځای او ترهګرې کړنې ترسره کوي.

---

2 - (تاند ویب پاڼه)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پاکستان او امریکایانو د یو بل په مخامخ همکارۍ او ملاتړ د لرو او برو پښتنو په سیمو کې زر ډوله جنایتونه (دولتي ترهګرۍ) ترسره کړي دي، د امریکا بې پیلوټه الوتکو د پاکستان د استخباراتي مالوماتو پر بنسټ د (تي، تي، پي) درې تنه مشران: **بیت الله مسید، حکیم الله مسید او مولوی فضل الله** ووژل او هم یې د افغان طالبانو مشر **ملا اختر محمد منصور** د بلوچستان په سیمه، د ایران پولې سره نږدې وواژه، هغه مهال ما یوه لیکنه (ملا منصور چا وواژه؟) لیکلې وه چې ځینې برخې یې داسې وې:

له ژور تحلیل او تجزیې وروسته دې پایلې ته ورسیدو چې ملا منصور خپلو ملګرو او د افغانستان د دښمنانو لخوا ووژل شو، دغه د طالبانو بې وفا ملګري او د افغانستان پدري دښمنان څوک دي؟ د دې سوال په ځواب باندې زموږ پنځه کلن ماشوم هم پوهیږي چې د افغان ولس دښمن (چې هېڅ کله به دوست نه شي) د پاکستان پوځ او پوځي استخبارات دي، له بده مرغه چې طالبانو او یو شمېر نورو ډلو ټپلو دغه ناځوانه دښمن ونه پېژاند چې د خپلو ناپوهیو له امله د خپل دښمن په خدمت کې دي، سره له دې چې ډېر خدمتونه یې ورته وکړل، خپل هېواد یې څو ځلې وران او بې شمېره خپل هېوادوال یې ووژل خو په پای کې د خپلو خدمتونو په بدل کې په بېلا بېلو طریقو له منځه یوړل شول.

طالبان په دې نه پوهیږي چې دوی د دښمن هېواد، د استخباراتو په لاس کې لوبېدلي دي، دا د ټولې نړۍ د استخباراتو بنسټیز اصول دي چې هغه کسان، ډلې او باندونه چې دوی یې د خپلو مخالفینو پروړاندې استعمالوي، په پای کې د خپلو ګټو او اړتیاؤ په موخه له منځه وړل کیږي.

زه په ډاګه ویلي شم چې ملا اختر محمد منصور د (ای- اس- ای) سازمان د هغو کړیو په همکارۍ چې د امریکا د (سي- ای- ای) لخوا استخدام شوي دي د هغو په مرسته وژل شوی دی، په دې دلیل چې ملا منصور د پاکستاني استخباراتو له لاسه وتلی ؤ، له ایران او روسیې څخه یې مرستې تر لاسه کولې، د دغې ادعا د ثبوت لپاره دا ښه بېلګه ده چې د ملا منصور د وژلو په اړه د روسانو غبرګون، دا ښیې چې نوموړی له روسانو او ایرانیانو سره په اړیکه او تفاهم کې ؤ، غوښتل یې د پاکستان له اسارته ځان خلاص کړي.

«حقیقت دا دی چې د نړۍ په یو ځای کې هم د افغانستان او پاکستان تر منځ د پرتو سرحدي سیمو په پرتله بې پیلوټه بریدونه نه دي ترسره شوي، یوازې د وزیرستان پر سیمه شاوخوا ۳۵۰ بریدونه شوي دي، په وروستیو کې د ښېنې نړېوال سازمان پاکستان پر وژلو ځورولو او بندي کولو تورن کړ.» ([3])

**پښتانه چې څه نور فکر کړی ناپوه دی**
**بې له توري خلاصی نه شته په بل کار**
(خوشال بابا)

جنرال پرویز مشرف د خپل ټول حماقت سره سره په دې پوه شو چې له خپله لاسه یې د پاکستان لپاره دښمنان روزلي دي، جنرال مشرف پر افغانستان د شوروي یرغل پر مهال د جهادي تنظیمونو او بیا له طالبانو سره په خپلو کړنو او مرستو پښېمانه دی، وایي چې موږ په خپله د ځان لپاره بلا جوړه کړه «طالبان تر شوروي وروسته کومه نوې ډله نه وه، دوی د هماغو روزونکو لخوا په هغو دیني مدرسو کې روزل شوي وو چې مجاهدین یې روزلي وو. فکر کوم زموږ ستره او بې ساري تېروتنه دا وه چې دا مو هېر کړي وو چې کله دغو کسانو ته روزنه ورکوو او په پراخه کچه یې په مذهبي او عقیده وي احساساتو سمبالوو، تر څو زموږ موخې ترسره کړي، کیدای شي دغه کسان یوه ورځ د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره له موږ څخه ګټه واخلي... په داسې حالاتو کې مالومه نه وه چې کوم لوري استعمالیږي او څوک یې استعمالوي. متحده ایالاتو، پاکستان او سعودي عربستان او ټول هغه هېوادونه چې د افغانستان په جهاد کې همکار وو له خپله لاسه مو ځان ته خطرناکه بلا جوړه کړه.» (پرویز مشرف: در خط آتش، ۳۲۵)

د جنرال مشرف وینا داسې ده چې وایي:«**بعد از ... زدن، چهارزانو شیستن**» اوس چې اوبه له ورخه تېرې دي د جنرال مشرف او نورو پاکستانیو جنرالانو پښېماني ګټه نه لري، پاکستانیو جنرالانو له جنرال ضیاء او نصیر الله بابر نیولې تر مشرف پورې په دې هڅه کې وو چې د خپلو ګاونډیانو کورونه وسوزوي خو هغه اور چې دوی بل کړی ؤ خپل کور یې پرې وسوزېده:

**دا ویلي هوښیارانو، خپل عمل د لارې مل دی**
**چې کړی هغه به ریبی، پښتنو کې دا متل دی**
**دا چې بند په بند قلم شوې، د تبر لاستی دې خپل دی**

---

[3] - (راجیف ډوګرا: د ډیورنډ توره کرښه. ژباړن: بابرزی هېواد دوست. ۳۳۳مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زموږ کور دې سوزولو، اوس دې اور په کور کې بل دی
تا پر نورو کړل تاختونه، نن په تا باندې يرغل دی
مرې له لوږې حال دې ګوره، درست ولس دې يرغمل دی
(م.ا.اخګر)

ومو ليدل چې د پاکستان لپاره د افغانستان د جګړو بيه ډېره لوړه تمامه شوه، له يوې خوا امنيت نه شته له بلې خوا ورځ تر بلې يې اقتصاد مخ په ځوړند راوان دی، عام وګړي په فقر کې اوسيږي، د پاکستان پوځ او سياسي مشرانو چې د پاکستان امنيت او اقتصاد يې تباه کړی دی، له پوځ او سياسي مشرانو کرکه لري، (آی، ايس، آی) کوښښ کوي په بېلابېلو لارو د خلکو د احساساتو مخه ونيسي، پاکستان حکومت انديښنه لري او هڅه کوي پښتانه سره يو نه شي، په ځانګړي توګه، (ټي، ټي، پي) چې پښتونولۍ ته ژمن دي او ملتپال پښتانه چې دواړه د پاکستان پر خلاف دي، په خپلو کې سره واچوي چې تر يوې کچې د دغو دوو پښتنو ډلو ترمنځ يې اختلافات اچولي دی.
په امريکا کې د پاکستان پخواني سفير، سترجنرال محمد علي دراني په واشنګټن کې د پاکستان په سفارت کې د يو سيمينار پر مهال وويل:«زه هيله مند يم چې پښتون ملتپال او طالبان سره لاس يو نه کړي، بايد داسې ونه شي، ښايي داسې وشي، موږ يې علامې وينو او ورته نږدې يو.»([4])
په پاکستان کې ټول پښتانه سياسي او نظامي غورځنګونه بايد له پوهې کار واخلي خپل دوست او دښمن وپيژني، پښتانه د يو پلار زامن او سره ورونه دي، بايده دي له خپلو ورونو سره دښمني ونه کړي او د غلام (پنجاب) غلامي ونه مني، د پښتنو په خپل منځي جګړو کې د پښتنو تباهي او بربادي ده، د نفاق او خپل منځي جګړو په هکله د مرحوم خادم صاحب يو مشهور شعر وړاندې کوو:

## د خادم صاحب شعر

يــوه ورځ چـېرې پـــر لاره تــيريــدمــه
ناخاپي د ونــې لانــدې ودريــدمــه
دوې مرغۍ شوې پاس په ونه کې په جنګ
دواړه غونډې کلوله شوې په دا رنګ
د غونډوسکي غـونډې لانـدې ولـويـدلـې
پيشو ټوپ کړ دواړه يې غبرګې ونيولې
چـغ و پـغ شور و فرياد يـې وکــړ ډېــر
مـګر څـه کـېده چې وخت ؤ ځيني تېر
نفاق دواړه د بلا پــه خـولــه کــې ورکړې
غليم دواړه ريز مريز زېر او زبر کړې
د نــفــاق ونــه ګــل نــه لــري سـرداره
نــه بــه وځـکې مـيوه تـرې مزه داره
فرض کړه دا چې هميشه دښمـن تيار دی
د فـرصـت او د مـوقـع پـه انتظار دی
که څوک کاندې اختلاف له خپله وروره
له دښمن نه به پايمال وې په ضروره

په يووالي کې آزادي او خپلواکي ده، پښتانه که نور هېڅ نه شي کولې، يو بل ته دې ضرر نه رسوي، خپل لاس دې په خپله نه لنډوي، پاکستان د ټولو پښتنو، بلوڅو او درست افغان ولس دښمن دی، پاکستان افغان ولس نه په کفر کې آرام پرېږدي، نه په اسلام کې. پاکستان له افغانستان سره بې له دښمنۍ بله پاليسي او کړنلاره نه لري، که په افغانستان کې ګلبدين حکمتيار چې تر ټولو سخت پاکستانی دی چې په اړه يې د (آی، ايس، آی) پخواني رييس، جنرال حميد ګل له يو پاکستاني تلويزيون سره د يوې پوښتنې په ځواب کې ويلي وو:«...حکمتيارکے بارے میں بڑے وثوق کی ساتھ ئے بات کہہ سکتا ہوں کہ ؤ اتنی بڑے پاکستانی ہو جتنا میں ہو.»
ژباړه:**«د حکمتيار په باره کې په لوی باور سره ويلی شم چې هغه دومره غټ پاکستانی دی څومره چې زه يم.»**
خو که همدغه لوی پاکستانی حکمتيار په افغانستان کې واکمن هم شي، پاکستان به يې پر وړاندې په دښمنۍ کې ودريږي.

پاکستان د خپل جوړښت له لومړۍ ورځې (۱۹۴۷ز) له افغانستان سره په دښمنۍ کې تېر کړي دي او په افغانستان کې له هر ډول اسلامي يا کفري، حکومتونو سره په دوستۍ کې نه دی پاتې شوی، د پاکستان د دښمنۍ علتونه چې وړاندې وويل شول يو علت يې دا هم دی چې پاکستان يو لړزاند (متزلزل) هېواد دی، خپله چاره يې په اوبو کې ليدلې ده چې خامخا به د نړۍ له نقشې پاکيږي، پاکستان د انګرېز استعمار له خوا له داسې بېلابېلو سيمو او توکمونو جوړ

---

[4] - (ډيورنډ توره کرښه.۳۲۷مخ)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

شوی دی چي تر پایه یي د یووالي امکان نه شته، نن وي که سبا، پاکستان به پاشل کیږي او لوی افغانستان به بیا خپله لویي ترلاسه کوي:

**د فرید او د حمید دؤر به بیـا شي**
**چي زه وکاندم پر هر لوري تاختونه**
(لوی احمد شاه بابا)

دا د تاریخ او زمان غوښتنه ده، دا د داسي قوم غوښتنه ده چي د یوه پلار (پښتون) زامن دي. په نړۍ کي داسي ډېر توکمونه شته چي د وخت زبرځواکونو له خوا په زور او جبر سره جلا شوي دي خو د وخت په تېریدو بیا سره یو ځای شوي چي یوه ښه بېلګه یي د جرمني وېشل وو چي د پښتنو په شان یي د یوه پلار زامن سره بېل کړي وو او تر منځ یي لوی دېوال جوړ کړی ؤ خو هغه پوخ دېوال ونه شول کولی جرمن وروڼه د تل لپاره سره بېل کړي.( نومبر۱۹۸۹ز، کال)

افغان ستر شاعر، لیکوال او سیاستوال مرحوم سلیمان لایق د پاکستان د تجزیي په اړه لا پخوا وړاندوینه کړي وه چي هغه لار نن لنډه شوي ده، اوس پر تررمیو د لمر پرغلونه روان دي، خامخا به د تیارو ځای روښاني نیسي. انشاء الله تعالی:

**دا خوني پاڅون دی شوني نه ده چي ملنده سي**
**شرق اوغرب به لوڅ سي، د فتنولوبه به شنده سي**
**مور د پاکستان او د ایران به په کي تنده سي**
**دا به د تاریخ د لعنتونو یوه پنده سي**
**زموږه د وطن د ارمانونو لار به لنده سي**
**دي منزل ته مخکي لاپراته سمندرونه دي**
**لا د لمر پرلار، د تررمیو یرغلونو دي**
(په تیاره کي غوربدلی ګل، د غلامانو سرود له شعري ټولګي څخه)

یادونه: د کتاب دغه ځېرکی پای ته ورسید.
نېټه:۱۴۰۲/۲/۳ل. ل


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولـئ